# څه شی دی او څه فایدې لری GPRS




GPRS (General Packet Radio Service) ستاسي دموبایل سته GSM ته یو Packet Switched وراضافه کوي ددغه ټکنالوجي دکارولو دپاره باید PDA یا موبایل ولری چي GPRS حمایه کړي او هغه شرکت ته لاس رسی پیداکړي کوم چي د GPRS خدمتونه وړاندي کوي .

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

GPRSدکارونکو دپاره دری فایدې لري اول داچې تاسي کولای سئ چې د GPRS په مرتسه داینټرنیټ سره وصل سي او دهرځل وصلېدو دپاره تاسي اړ نه یاست چې دمربوطه شرکت سره تماس ونیسی. دوهم داچې GPRS دموبایل ترمعمولي سرعت څو چنده زیات سرعت لري. دموبایل معمولي سیګنالونه حداکثر 9.6 کیلو بایټه په یوه ثانیه کي سرعت لري او یاد HSCSD (High-Speed Circuit Switched Data)سرعت په یوه ثانیه کي حد اکثر 1.44 کیلو بایټه دي پداسي حال کي چې GPRSپه یوه ثانیه کي د 40 کیلوبایټو سرعت په لرلو سره کولای سي چې په اسانۍ دانټرنیټ سره وصل سي چې کم ترکمه دعادي سرعت څلور برابره کیږي .

دریمه فایده یې داده چې وړاندي کونکی شرکت یوازي او یوازي د ډېټا داستولو او راوړلو پراساس ستاسو څخه افغانۍ اخلي پدې معنی چې که چیري تاسي ټوله ورځ دانټرنیټ سره وصل یاست پرتاسي کوم مصرف نه راځي خو که چیري تاسي کوم پیغام استوۍ نو بیا پرتاسي مصرف نه راځي .

GPRS دځه شي دپاره کاروو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېښنالیکونه: تاسي کولای سئ چي هروخت خپلو دوستانو ته په کمو پیسو پیغامونه واستوی .

مخامخ خبري او باندار: دانټرنیټ سره تړاو تاسوته دا زمینه برابروي چي د IRQ،IC9، AOL messenger، MSN messenger، Yahoo Messengerاو Skype دلاري دخپلو دوستانو سره مخامخ خبري، لیکل او باندار وکړئ .

دMMS (Multimedia Messaging Service):
دMMS لاري کولای سي چي خپلو دوستانو او ملګروته عکسونه، ږغونه او وېډیو واستوی چي داد SMS یو پرمختللی شکل دی .

د GPRS دنده :

که څه هم GPRS داطلاعاتو دانتقال سرعت یه ثانیه کي تر IIS پوري رسوي خو په عمل کي یې سرعت په ثانیه کي 40 کیلو بایټه دی .

GPRSڅلور ډوله کوډونه لري CS1, CS2, CS3, CS4هریو ددغو کوډونو څخه یه ثانیه کي د 21,4 کیلو بایټه اطلاعاتو داستولو توان لري او پدې 21.4 کیلو بایټه کي یې یوه برخه داطلاعاتو دپوره رسولو پخاطر ورسره یو ځای سویدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

CS1کوډ يـوازي 9 کـيـلـوبـايـټـه داطلاعاتـو استـولـو لـپـاره وکـاروی نـور ټـول داطلاعاتـو دصحيـح او پـوره استـولـو لـپاره کـاروی .

CS2او CS3 ډېـر سرعت لـري او 13, 4 يـا 15, 6 کـيـلـو بـايـټـه اطلاعات پـه يـوه ثـانـيـه کـي لـيـږي .

اوپـه CS4 کـي داطلاعاتـو دانـتـقـال سرعت واخيـرنـي حد تـه رسيـږي پـدې مـعـنـی چي ټـول 21.4 کـيـلـو بـايـټـه ټـول دډېـټـا داستـولـو لـپـاره کـاروي .

د GPRS ستـه شرکـتـونـه يـوازي CS2 او CS1 دکـښـتـه سرعت پـه کـارولـو سره وړانـدي کـوي او پـه لازم وخت کـي يـې يـو دبـل پـرځـای کـاروي.

Mohammad Noor
mnoor.h444@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**